د سلام نړیوال علمي ژورنال
Salam International Academic Journal
*Journal Homepage: https://journal.salam.edu.af*
لسم کال، شمیره ۱۷، پسرلی، کال ۱۴۰۴هـ ش

# د شرعي هجرت او معاصرې کډوالۍ پرتله معنی او مفهوم، مشابهتونه او توپیرونه

پوهنمل ډاکتر فصیح الله عبدالباقي[1]، ابوبکر مدقق[2] او شکرالله مخلص[3]

DOI: 10.64104/v10.Issue.17.n5.2025

ISSN: 3078-9583 (Online)    ISSN: 3078-9575 (Print)
تاریخ نشر: ۱۴۰۴/۰۵/۰۸    تعداد صفحات: ۱۶    از صفحه ۷۶ تا ۹۱

## د څېړنې لنډیز

د "شرعي هجرت" او "معاصرو هجرتونو او کډوالیو" ترمنځ پرتله، له دیني، تاریخي، ټولنیز او حقوقي اړخونو له پلوه یوه ارزښتناکه او مهمه څېړنه ده. دا څېړنه د توصیفي ـ تحلیلي مېتود پر بنسټ تر سره شوې ده، چې د اسلامي او لغوي منابعو په رڼا کې د هجرت معنا او مفهوم بیانوي، تاریخي واقعیتونو ته اشاره کوي، او د معاصرو کډوالیو بېلابېلې بڼې او ډولونه روښانه کوي او ځېنط حقوقي اړخونو ته یې اشاره کوي.

په څېړنه کې د "هجرت" اصطلاح د اسلامي فقهې له مخې داسې تعریف شوې چې د ظلم، فتنې او په دین له آزادانه عمل څخه د مخنیوي په صورت کې، مسلمان له خپل ټاټوبي څخه بل ځای ته انتقالېږي. او "کډوالي" او "مهاجرت" د معاصرو حقوقي اعتبارونو له مخې هغه پروسه ده چې د اقتصادي، ټولنیزو، امنیتي یا طبیعي عواملو له امله له یوه ځای څخه بل ځای ته د انسان د موقتي یا دوامدار انتقال سبب ګرځي.

همدارز په لیکنه ورته اصطلاحات لکه " پناه غوښتنه "، "جبري مهاجرت"، "مؤقته" او "دایمي مهاجرتونه" هم د نړیوالو تعریفونو له اړخه تحلیل شوي، تر څو د معاصرو کډوالیو ټول اړخونه لا ښه وپېژندل شي، او د شرعي هجرت او معاصرو کډوالیو ترمنځ مفهومي، ارزښتي او حقوقي توپیرونه او مشابهتونه روښانه شي.

دا څېړنه هڅه کوي وښیي چې، که څه هم دا دواړه پدیدې په ظاهري توګه سره ورته ښکاري، خو د اهدافو، شرایطو، حقوقي پایلو او انساني حیثیت له پلوه له یو بل څخه جلا او ځانګړي واقعیتونه لري.

**کلیدي کلیمې: شرعي هجرت، معاصرې کډوالۍ، مشابهتونه او توپیرونه، مفهوم**

---

[1] د سلام پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځی استاذ. Fasih.1392@gmail.com
[2] دسلام پوهنتون د حقوقو او سیاسی علومو د پوهنځي استاذ. a.mudaqiq21@gmail.com
[3] د تفسیر او حدیث د ماسټرۍ ښوونکی او د پوهنتون د ماسټرۍ بورډ رییس. +93 78 788 4612، skukrullah2@gmail.com

استفاده از مقالات مجله با ذکر نام و مصدر مجاز می باشد
The use of the journal's articles is permitted provided that the author's name and the source are properly cited.